**Pashto** **پښتو**

**د ډاټا د حفاظت مقرراتو سره سم ستاسو په معلوماتو (ډاټا) باندې د کار څرنګوالي په اړه خبرتیاوې**

د کډوالو محکمه دغه معلومات تاسو ته لیږي، تر څو تاسو ته خبر درکړي چې د کډوالو محکمه ستاسو شخصي معلوماتو سره څرنګه چلند کوي. مونږ ستاسو په اړه شخصي معلومات د لاندې موضوعګاني په اړه تر لاسه کړي دي:

- دا چې تاسو پر هغه فیصلې باندې چې د بهرنیانو چارو اداري له خوا شوي وو، شکایت کړي،
- دا چې ستاسو په اړه د بهرنیانو چارو اداري فیصله د شکایت د غور کولو له پاره په اوتومات توګه کډوالو محکمې ته راجع شوي دي،
- دا چې تاسو د کډوالو محکمې څخه غوښتې ده، یوه قضیه چې وړاندې فیصله شوي وو، د سر نه وکتل شي.
- دا چې تاسو د یو عام پوښتنې په اړه د کډوالو محکمې ته مراجعه کړي،
- دا چې تاسو د شکایت شوي قضیې اسنادو ته د لاسرسی غوښتنه کړي،
- دا چې تاسو د خپل هغې شخصي معلوماتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کړي چې مونږ په کي کار کوو،
- دا چې تاسو د بل چا په استازیتوب د قضیې پر مخ وړونکي په توګه کدوالو محکمې ته مراجعه کړي، یا
- دا چې د یو بل کس د قضیې د رسیدګې په اړه ستاسو معلومات قضیې ته داخل شوي، کوم چې د بهرنیانو قانون د څلوښتم مادې دوهم بند سره سمون لري.

له دې لپاره چې د کډوالو محکمه وکولای شي ستاسو په شکایت شوي قضیې باندې کار وکړي، یا ستاسو مراجعې ته ځواب درکړي، ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار کیږي، د هغه د جملې څخه د معلوماتو تر لاسه کول، د معلوماتو ساتل او په ځینې مواردو نورو چارواکو ته معلومات لیږل دي. ستاسو پر ډاټا باندې کار کول په ټولیز یا تر یو حده د یو کمپوتری سیستم په مرسته ترسره کیږي.

پر بنسټ کله چې د کډوالو محکمه ستاسو په اړه ستاسو له خوا یا نورو له خوا معلومات تر [1]د ډاټا حفاظت د مقرراتو لاسه کوي، باید تاسو ته ځینې معلوماتونه درکړي.

هغه معلوماتونه چې مونږ باید تاسو ته درکړو، دا دی:

1. مونږ د ډاټا مسول یو - تاسو څنګه کولای شي مونږ سره اړیکې ونیسئ؟
2. مونږ د ډاټا حفاظت یو مشاور لرو – تاسو څنګه کولای شي هغه سره اړیکې ونیسئ؟
3. دا چې مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار کوو، څه قانونی موخه او بنسټ لري؟
4. آیا تاسو دنده لرئ چې مونږ ته خپل معلومات راکړئ؟
5. مونږ په کومو شخصي معلوماتو باندې کار کوو؟
6. مونږ ستاسو په اړه شخصی معلومات د کومو چارواکو څخه تر لاسه کوو، او ستاسو شخصي معلومات کومو چارواکو سره شریکوو؟
7. ستاسو شخصی معلومات له کوم ځای څخه راځي؟
8. مونږ ستاسو شخصي معلومات څو مودې له پاره ساتو؟
9. تاسو کولای شي خپل رضایت بېرته واخلئ.
10. ستاسو په شخصي معلوماتو زمونږ د کار په اړه تاسو کوم حقونه لرئ؟
11. تاسو کولای شي د ډاټا تفتیش ریاست ته شکایت وکړئ.

لاندې تاسو په تفصیل سره هغه معلومات تر لاسه کوئ، چې مونږ باید تاسو ته وړاندې کړو.

[1] د اروپا پارلمان او شورا (EU) مقرره 2016/679 د 2016م کال د اپریل 27مه، د کسانو د فیزیکي خوندیتوب د شخصي معلوماتو د کار کولو په اړه، او معلوماتو د آزاد تبادلې په اړه او لمبر EF/46/95 دایرکتیف له منځه وړل په اړه.

Adelgade 11-13
1304 København K
Telefon: +45 61983700
E-mail: fln@fln.dk
Hjemmeside: www.fln.dk

که کومه پوښتنه لرئ، تاسو کولای شي مونږ سره اړيکي ونيسئ. زمونږ د اړيکي پته په لمړی پاڼه ليکل شوي دي، او همدا راز د 1 ټکي لاندي ليکل شوي دي.

**1. مونږ د ډاټا مسول يو - تاسو څنګه کولای شي مونږ سره اړيکي ونيسئ؟**

د کډوالو محکمه او د کډوالو محکمي سکرتريت د هغه شخصی معلوماتو د رسيدګي مسول دی، چي مونږ ستاسو په اړه هغه باندي کار کوو. لاندي زمونږ د اړيکي پته.

Flygtningenævnet
Adelgade 11-13
1304 København K
Tlf nr.: 6198 3700
E-mail: fln@fln.dk
Hjemmeside: www.fln.dk
CVR-n.: 36977191

د مراجعي پر مهال مونږ تاسو څخه غواړو چي مونږ ته د دوسيي لمبر، د هويت شخصي لمبر PID او نور معلومات بيان کړئ، چي کيدای شي ستاسو د شخصي معلوماتو د موندلو په برخه کي، کوم چي د کډوالو محکمه ورباندي کار کوي، مرسته وکړي.

**2. مونږ د ډاټا حفظت يو مشاور (DPO) لرو – تاسو څنګه کولای شي هغه سره اړيکي ونيسئ؟**

د کډوالو محکمه د ډاټا حافظت يو مشاور لري. تاسو کولای شي هغه سره په لاندي طريقي اړيکي ونيسئ:

E-mail: dpo@hjemst.dk
Telefon: +45 3065 7800

ليک: د کډوالو محکمه، د شخصي معلوماتو حافظت مشاور

Flygtningenævnet
att. Databeskyttelsesrådgiver
Adelgade 11-13
1304 København K

**3. دا چي مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندي کار کوو، څه قانونی اهداف او بنسټ لري؟**

ستاسو پر شخصي معلوماتو باندي کار کول موخه دا دي، چي د کډوالو محکمه وکولای شي ستاسو قضيه فيصله کړي، يا ستاسو مراجعي ته ځواب درکړي.

پر بنسټ او د ډاټا [3] پر قانوني بنسټ، د ډاټا حافظت قانون[2] مونږ ستاسو پر شخصي معلوماتو باندي د بهرنيانو قانون ساتني مقرري پر بنسټ کار کوو، چي د دغو لاندي ټکي په برخه ترسره کيږي:

د شخصي ډاټا حافظت قانون

- شپږمه ماده (معمولي شخصي معلومات)
  - لمړی بند، a فقره (رضايت)
  - لمړی بند، c فقره (قانوني ژمنه)
  - لمړی بند، e فقره (د چارواکو واک کارول)

[2] 1117 لمبر مقرره د 2017/10/02 د بهرنيانو قانون سره د وروستنی بدلونونه
[3] 502م قانون د 2018/05/23 د کسانو د فيزيکي خونديتوب د شخصي معلوماتو د کار کولو په اړه، او معلوماتو د آزاد تبادلي په اړه او لمبر EF/46/95 دايرکتيف له منځه وړل په اړه.

- نهمه ماده (حساس شخصي معلومات)
  - دوهم بند، a فقره (رضايت)
  - دوهم بند، e فقره (هغه معلومات چې د راجستر شوي کس لخوا خپاره شوي)
  - دوهم بند، f فقره (قانوني ژمنه)
  - دوهم بند، g فقره (اړینې ټولنيزې ګټې)

د ډاټا ساتنې مقرره

- اتمه ماده، اول بند، دوهم فقره (رضايت)
- اتمه ماده دوهم بند، دریم فقره (د چارواکو واک کارول)

که چیري تاسو د یو عام پوښتنې په اړه کډوالو محکمې ته مراجعه کړي یاست، محکمه ستاسو پر شخصي معلومات د هغه قانوني بنسټ چې د ډاټا حفاظت مقرراتو شپږمه ماده، اول بند د **C** فقره سره سمون لري، رسیدګي کوي. که چیري د اسنادو د لاسرسی مسله راپورته شي، قانوني بنسټ یي معلوماتو ته د لاسرسی قانون دی. د بل کس په استازیتوب د قضیي پر مخ وړل، قانوني بنسټ یي د اداري قانون څلورمه ماده ده. که چیري مراجعې د راجستر شوي کس د حقوقو په اړه راپورته شي، د هغه قانوني بنسټ د ډاټا حفاظت مقررات چې په شپږمه ماده، اول بند د **C** په فقره کې بیان شوي، رسیدګي کیږي چې دریمه ماده (د راجستر شوي کس حقوق) سره سمون لري.

**4. آيا تاسو دنده لرئ چې مونږ ته خپل معلومات راکړئ؟**

تاسو دنده لرئ چې هغه معلومات مونږ ته راکړئ چې مهم ګڼل کیږي، تر څو د کډوالو محکمه وکولای شي ستاسو قضیه فیصله کړي. که چیري تاسو مونږ ته دا معلومات رانکړي، ښایي ستاسو قضیي ته زیان ورسیږي. د زیاتو معلوماتو د ترلاسو کولو له پاره چې ستاسو د معلومات ورکولو د همکاری په اړه څرګند شوي، د بهرنیانو قانون څلوښتمې مادې ته مراجعه وکړئ.

**5. مونږ د کوم شخصي معلوماتو په اړه کار کوو؟**

که چیري لازم وګڼل شي، مونږ کولای شو ستاسو پر لاندنیو شخصي معلوماتو باندې کار کوو:

- معمولي شخصي معلومات (د مثال په توګه، نوم، پته او ستاسو د کورنی اړیکې)
- د احتمالي جرمي موضوعګانې په اړه معلومات
- حساس شخصی معلومات (د مثال په توګه روغتیایی معلومات او ستاسو د سیاسی او مذهبی اړیکي په اړه معلومات)

**6. مونږ ستاسو په اړه شخصی معلومات د کومو چارواکو څخه تر لاسه کوو، او ستاسو شخصي معلومات کومو چارواکو سره شریکوو؟**

کله چې د کډوالو محکمه باید ستاسو قضیي رسیدګي وکړي، محکمه ستاسو د قضیې اسناد د نورو دولتي چارواکو، په ځانګړه توګه د بهرنیانو چارو ادارې او د پولیسو څخه تر لاسه کوي.

د کډوالو محکمه په ځینو حالتو کې ستاسو شخصي معلومات نورو چارواکو ته درلیږي، په ځانګړه توګه:

- د بهرنیانو چارو او په ټولنه کې د جذبیدو وزارت ته
- هیواد ته ستنېدونکو اداري ته
- د بهرنیانو چارو اداري ته
- د کډوالو شورا ته
- د کډوالو سره مرستي ټولنې ته
- د هویت ملی مرکز ته
- ژباړونکو ته
- پولیس او څارنوالي ته

- استخباراتی ادارو ته
- دولتي وکیل ته
- بهرنیو چارو وزارت ته
- عدلیې وزارت ته
- پارلمان ته
- په پارلمان کې دولتي قاضي ته

**7. ستاسو شخصي معلومات له کوم ځای څخه راځي؟**

ستاسو په اړه هغه معلومات چې مونږ ورباندې کار کوو، په ځانګړه توګه د لاندې ځایو څخه راځي:

- ثبت شوي معلومات د بهرنیانو چارو او په ټولنه کې د جذبیدو وزارت د اداراتو له خوا
- د نورو دولتي چارواکو له خوا، د مثال په توګه د بهرنیانو چارو ادارې او د پولیسو له خوا
- هغه سرچینې چې ټول ورته لاسرسی لري، د مثال په توګه انترنیټي سایټونه او سوشیال مدیا
- د وګړو د ثبت احوال مرکزی اداره (CPR)

**8. مونږ ستاسو شخصي معلومات څو موده له پاره ساتو؟**

مونږ د ذکر شوي رسیدګۍ اهدافو سره سم ستاسو په اړه شخصي معلومات ثبتوو او ساتو یې، او د آرشیف قانون جوړونې مقرراتو سره سم (تقریباً هر پنځه کال) د آرشیف چارواکو ته سپارو. تر دې وروسته مونږ به یوه دقیقه ارزونه ترسره کوو چې آیا مونږ دې ته اړتیا لرو چې ورکړل شوي معلومات وساتو که نه. هغه څه چې په دغه ارزونه ورته پام کیږي دا ده چې آیا دا معلومات د راتلونکو قضیو له پاره لازم ګڼل کیږي که نه، د مثال په توګه د قضیې د بیا ارزونې د غوښتنې په تړاو، او داسې نور. که چیرې مونږ د معلوماتو ساتلو لپاره ادارې اړتیا و نه لرو، نو دا معلومات له منځه وړل کیږي.

**9. تاسو کولای شي خپل رضایت بېرته واخلئ**

که تاسو کډوالو محکمې ته رضایت ورکړی، چې ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار وکړي، تاسو هر کله کولای شي چې خپل رضایت بېرته واخلئ. که چیرې تاسو غواړئ خپل رضایت بېرته واخلئ، تاسو کولای شي مونږ سره د اړیکي معلومات له لارې چې د 1 ټکي لاندې لیکل شوي دي، اړیکي ونیسئ.

که تاسو پریکړه دې وکړه چې خپل رضایت بېرته واخلئ، مونږ لا کولای شو چې ستاسو پر شخصي معلوماتو باندې کار وکړو، چې د رضایت د بېرته اخستنې مهال نه مخکې مونږ یې تر لاسه کړي ده. کله چې تاسو خپل رضایت بېرته واخلئ، د همدغه شیبې نه د رضایت بېرته اخستنې عملی کیږي.

**10. تاسو څه حقونه لرئ؟**

تاسو د هغو معلوماتو په اړه چې مونږ ورباندې کار کوو، ځینې حقونه لرئ. که غواړئ چې د خپل حقونو څخه ګټه واخلئ، باید مونږ سره اړیکې ونیسئ. تاسو لاندې حقونو لرئ:

- تاسو حق لرئ هغو معلوماتو ته لاسرسی ولرئ، چې مونږ ستاسو په اړه هغې باندې کار کوو، همدا راز یو شمیر نور معلومات، د هغه د جملې څخه په معلوماتو باندې د کارکولو اهداف.

- تاسو حق لرئ چې غلط یا ګمراه کوونکی معلومات اصلاح یا حذف کړئ.

- تاسو حق لرئ چې په ځانګړو مواردو د خپل په اړه ځینې معلومات محدود یا له منځه وړئ، که دا معلومات نور ستاسو د قضیې د غور لپاره یا ستاسو د مراجعې په ځواب لازم نه ګڼل کیږي.

- په ځینو مواردو کې تاسو کولای شي زمونږ کار باندې چې ستاسو شخصي معلوماتو په اړه تر سره کیږي اعتراض وکړئ.

- تاسو حق لرئ چې د هغه شخصي معلوماتو یو کاپی تر لاسه کړئ، چې مونږ ستاسو په اړه وربانديې کار کوو یا خپل شخصي معلومات له یوه ډاټا مسول څخه بل ډاټا مسول ته انتقال کړئ.

## 11. تاسو کولای شي د ډاټا تفتیش ریاست ته شکایت وکړئ.

که تاسو له خپل شخصي معلوماتو سره زمونږ د چلند څخه ناخوښه یاست، تاسو کولای شي چې د ډاټا تفتیش ریاست ته شکایت وکړئ.

تاسو کولای شي د ډاټا تفتیش ریاست پته په دغه سایت کې پیدا کړئ: .www.datatilsynet.dk

Udlændinge- og Integrationsministeriet

**Oplysning om behandling af dine personoplysninger i Udlændinge- og Integrationsministeriets departement**

Styrelsen kan videregive oplysninger om dig, herunder oplysninger fra din sag, til Udlændinge- og Integrationsministeriets departement. Departementets behandling af dine oplysninger er nødvendig for at løse opgaver, der henhører under offentlig myndighedsudøvelse, og sker bl.a. med det formål at udarbejde statistik, udarbejde eller evaluere lovgivning, besvare folketingsspørgsmål, pressehenvendelser og anmodninger om aktindsigt, og for at løse lignende myndighedsopgaver på Udlændinge- og Integrationsministeriets område. I den forbindelse kan departementet også behandle oplysninger om dig fra andre myndigheder, f.eks. oplysninger om eventuelle strafbare forhold, dine skatteforhold eller din beskæftigelse.

Du kan læse om departementets behandling af dine personoplysninger på uim.dk/behandling-af-dine-personoplysninger. På siden finder du bl.a. departementets kontaktoplysninger, samt oplysninger om departementets databeskyttelsesrådgiver (DPO), oplysninger om det nærmere grundlag for departementets behandling af dine oplysninger, og om dine rettigheder i denne forbindelse.

**Information about the processing of your personal data by the Department of the Ministry of Immigration and Integration**

The Agency may disclose information about you, including information from your case, to the Department of the Ministry of Immigration and Integration. The Department may process your information when this is necessary for the performance of a task carried out in the exercise of official authority, including the preparation of statistics, drafting and evaluation of legislation, assistance to the Danish Parliament, processing enquiries from the media and requests for public access, and in the performance of other such official tasks of the Ministry of Immigration and Integration. The Department may also process information about you from other public authorities, for instance personal data relating to criminal convictions and offences, information about your taxes or information about your employment.

You can find information about the Department's processing of your personal data at uim.dk/processing-of-your-personal-data. On the website you will find the Department's contact information, information about the Department's Data Protection Officer (DPO), further information about the Department's legal basis for the processing of your personal data, and about your rights in relation to our data processing activities.